بسم الله الرحمن الرحيم

د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست

د تحريراتو آمريت

د متحدالمآلونو څانګه

متحدالمآل نمبر: ۳۱

تاريخ: ۲۶/ جمادي الثانية/ ۱۴۴۵ هق
مصادف: ۱۹/جدي/ ۱۴۰۲ هش

عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر ☐

د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو ، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليكم ورحمت الله وبركاته

و بعد: د ځيني محكمو استهداآت رارسېدلي چي خلاصه يې داسي ده: كه د دعوې په طرفينو كې څوک د قضاء د مجلس تحقير كوي، يا بې ځايه غال مغال كوي، د بل طرف سره ناوړه مناقشه كوي، قاضي صاحب يې په خبرو منع كړي، وئ نه مني، آيا قاضي ته جواز لري؟ چې له تحريري حکم پرته د ستري محكمې له اذنه پرته في الحال هغه سړی په مناسب وهلو له دې كاره منع كړي حال دا دی: چي كه د دغه وهلو لپاره هم له ستري محكمې څخه اذن ضروري شي په هغه كي تأخير راځي او وهلو ته اوس في الحال اړتيا وي په دې اړه كه معلومات راكړل شي چي څرنګه وكړو؟

پورته ذكر شوي موضوع د ستري محكمې د عالي شورا په مجلس مورخ ۱۴/جمادى الأولى/۱۴۴۵هق مصادف ۷/قوس/۱۴۰۲هش مطرح شوه په اړه يې د تصويب نمبر (۱۲) د اوومې پريكړې په اساس عالي شورا داسي هدايت وكړ:

(( قاضي دې په دغسي حالاتو كي د قضائي مجلس ګډون والو ته په تأكيد سره ووائي چي بايد د مجلس نظم مختل نكړی كه بيا هم كوم څوک په قضائي مجلس كي غال مغال كوي، د قاضي، يا د خپل مقابل لوري سره ناوړه مناقشه كوي په دغه صورت كي دې قاضي د قرار په صادرولو سره د قضائي مجلس مختل كوونكي ته مناسب تعزيري حبس چي د درو ورځو څخه زيات نه وي، وركړي او وهل دې نه كوي.))

بناءً د ستري محكمې د عالي شورا پورته تحرير شوی هدايت ددې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د ستري محكمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محكمو ته واستول شو تر څو د هغه مطابق اصولي اجرآآت تر سره شي.

په درنښت

۲۶ / ۶ / ۱۴۴۵ هق

مفتي عبدالرشيد "سعيد"

د ستري محكمې

د دارالانشاء عمومي رئيس

ستره محکمه
رياست عمومی دارالانشاء

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
Post box: ۱۹۸۹
Email: darulinsha@gmail.com
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحیه ، کابل - افغانستان
د معاونیت تیلفون : ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
پست بکس : ۱۹۸۹
ایمیل: darulinsha@gmail.com
ویب سایت: www.supremecourt.gov.af